# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۷ د کب ۲۲مه | د ۲۰۱۹ د مارچ ۱۳مه | دویم کال| ۳۵۰مه ګڼه


## د ملکي مرگ ژوبلې اوج؛
# په غزني کې هوایي برید ۱۳ ملکي وګړي وژلي دي



۳

د ملکیانو وژنې به حکومت ته بدې پایلې ولري
۲ مخ

نوی کابل بانک د نویو غلو په ولکه کې؟!
۲ مخ

د نړۍ څینو مشهورو پوهانو د پیسو په اړه څه انګیرنې درلودې؟
۵ مخ

## د طالب او امریکايي استازو ترمنځ هوکړې شوې، خو تر اعلان مخکې یې په ښکېلو لورو کې ذهنیت جوړونه کېږي

د قطر په پلازمېنه دوحه کې د امریکايي او طالب استازو ترمنځ له ۱٦ ورځنیو خبرو وروسته، دواړه لوري له ترهګرۍ سره د مبارزې او له افغانستانه د امریکايي ځواکونو د وتلو په تړاو هوکړې ته رسېدلي دي، خو د دغو هوکړو تر اعلان مخکې په ښکېلو لورو کې ذهنیت سازي کېږي.
مسیر ورځپاڼې ته ځینو سرچینو ویلي چې دغه هوکړه لیک د کاغذ پرمخ په دوو ژبو لیکل شوی دی، خو تر رسمي اعلان مخکې یې هڅه کېږي چې په امریکا، افغان حکومت او سیمه ییزو هېوادونو کې د ذهنیت جوړونې لپاره هڅې پیل شوې دي.
ټاکل شوې ده چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد له جګپوړو امریکايي چارواکو او ولسمشر ټرمپ سره د لیدنې لپاره واشنګټن ته سفر وکړي.
سرچینې زیاته کړې، طالبانو هوکړه کړې چې د القاعدې په ګډون به له ټولو ترهګرو ډلو سره خپلې اړیکې پرې کوي او د هغوی پر وړاندې به اقدام کوي، خو طالبانو په دې تړاو څه نه دي ویلي.
په دغو خبرو کې د امریکايي ځواکونو د وتلو پر ځرنګوالي بحثونه شوي او دواړه لوري په دې اړه هوکړې ته رسېدلي دي. خو تر اوسه د امریکايي ځواکونو د وتلو د مهالوېش په تړاو جزیات نه دي روښانه شوي.
د سرچینو په خبره، د بین الافغاني خبرو او اوربند په اړه هم خبرې شوې دي او د هوکړه لیک په متن کې ځای ورکړل شوی دی.


## طالبان دې ژر تر ژره له افغان حکومت سره خبرو ته کېني



۵ مخ

## کتاب
۴ مخ

## ډیورنډ توره کرښه





د کتاب تر ټولو ښه ځانګړنه دا ده چې بهرني لیکوال راجیف ډوګرا لیکلی دی. له دې مخکې د ډیورنډ په اړه ډېرو افغانانو کتابونه لیکلي وو، چې ځینې یې د معلوماتو په تله پوره نه وو او په ځینو کې له احساساتو هم کار اخیستل شوی و، خو دغه کتاب بیا بهرني او په اصطلاح منځګړي لیکوال لیکلی دی.

## کابل کې د جلغوزیو د پروسس معیاري فابریکه پرانیستل کېږي



کابل کې د جلغوزیو د پروسس یوه ستره معیاري فابریکه پرانیستل کېږي. په دې فابریکه کې به په نړیوالو معیارونو د جلغوزیو پروسس کېږي. دا فابریکه چې د څلورو میلیونو امریکايي ډالرو په ارزښت د یوه افغان سوداګر په پانګه اچونه جوړه او ماشینونه یې له اروپا څخه راوړل شوي دي، ډېر ژر به په کابل کې خپل فعالیت پیل کړي. افغانستان په یوه کال کې له ۳۵ تر ۴۰ زرو ټنو پورې د جلغوزیو د تولید وړتیا لري. دغه فابریکه په اتو ساعتونو کې ۱۲ ټنه د جلغوزیو مغز او په یاد وخت کې ٦۰ ټنه پوستکي لرونکي جلغوزي پروسس او بسته بندي کولی شي. د یادې فابریکې مسوول شېرعلي ځدراڼ وایي چې د دوی پروسس شوي جلغوزي به په معیاري ډول صادرولو ته چمتو وي.

## سیستم آنلاین توزیع پاسپورت در افغانستان افتتاح شد



با افتتاح سیستم آنلاین توزیع پاسپورت در افغانستان، ظرفیت توزیع ۲۰۰۰ پاسپورت در روز؛ به ده هزار پاسپورت افزایش خواهد یافت.
پاسوال سیدعمر صبور مسئول ریاست پاسپورت وزارت امور داخله، دیروز در یک نشست خبری گفت که این ریاست، جهت مبارزه با فساد اداری و دریافت پاسپورت در اندک زمان، سیستم آنلاین پاسپورت را ایجاد نموده است.
نامبرده افزود: «متقاضیان پاسپورت، طور آنلاین فورم را پر می‌کنند، نقل فورم را با خود گرفته و پول را در یکی از نمایندگی های د افغانستان بانک تحویل میکنند؛ بعد از آن به اداره پاسپورت مراجعه می‌کنند؛ در اداره، فورم چک و بایومتریک می‌شود و بدین صورت، همه کار مراجعین تمام می‌شود».
نامبرده گفت: «پیش از این، هرگاه یک پاسپورت حریق و یا مفقود می‌شد، پولیس انترپول در جریان گذاشته می‌شدند و برای آنها گفته می‌شد که فلان پاسپورت مدار اعتبار نیست؛ اما اکنون با افتتاح این سیستم، به پولیس متذکره آنلاین معلومات داده می‌شود؛ زیرا به سیستم وصل اند».
به قول موصوف، اکنون هیچکس نمی تواند از پاسپورت حریق یا مفقود شده و یا پاسپورت دوم و سوم در میدان های هوایی و بنادر استفاده کند.
شهزاد آریوبی وزیر مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، در نشست متذکره گفت که به دست آوردن فورم آنلاین جهت دریافت پاسپورت، یک دستاورد حکومتداری خوب پنداشته می‌شود.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Admission Open
Starting: 2 March 2019



Speaking Skills
How to Speak English Well
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.
+93 (0) 789 98 9696
www.shigal.edu.af
Shigal English Academy
Shigal.edu@gmail.com

## دریځ

### د ملکیانو وژنې به حکومت ته بدې پایلې ولري

د حکومتي او امریکایي ځواکونو له خوا د ملکیانو د وژنې په لړ کې، پرون یو ځل بیا بې پیلوټه الوتکې د غزني په اندړو ولسوالۍ کې د ملکي وګړو موټر په نښه کړی، چې پکې سپاره دیارلس بې ګناه وګړي شهیدان شوي دي. همدې پېښې ته په غبرګون کې د اندړو اوسېدونکو لاریون وکړ او پر حکومت یې غږ وکړ، چې دا وحشتونه ودروي. حکومت د تل په څېر د دې پېښې په اړه چوپ دی او ان د دغه ډول وحشتونو د غندنې جرئت هم نه کوي.

په دې ورځو کې نږدې هره ورځ ګډ ځواکونه ځمکنی او هوایي عملیات کوي، چې ډېری یې شپني دي. په دغو عملیاتو کې پرله پسې د ملکي مرګ ژوبلې خبرونه ورکول کېږي. همدا دوې ورځې وړاندې په وردګو کې هم په شپنیو عملیاتو کې ملکي وګړي ووژل شول، چې سیمه ییزو چارواکو تایید هم کړل. درې ورځې وړاندې په ننګرهار کې هم ملکي وګړي په نښه شول او مرګ ژوبله ور واوښته. همداسې درې ورځې وړاندې په پکتیکا کې اته ملکي وګړي د ګډو ځواکونو په عملیاتو کې شهیدان شول. له ډېرو نورو سیمو هم د ملکي مرګ ژوبلې خبرونه ورکړل شوي، چې حکومتي چارواکي یا ترې انکار کوي او یا هم د تل په څېر د خلکو په سترګو کې د خاورو شیندلو لپاره د پلاوي او څېړنو خبره کوي، چې د وحشت له مخنیوي سره هېڅ مرسته نه کوي.

د حکومت او ګډو ځواکونو له خوا د ملکي مرګ ژوبلې شمېرې له هغه وروسته زیاتېږي، چې د سولې خبرې پیل شوي دي. یو لامل ښایي دا وي چې حکومت د سولې د روانو خبرو مخالف دی او په دې ډول غواړي چې وحشت وکړي، پر جګړه ټینګار وکړي او د هغسې سولې مخه ونیسي، چې د اوسنیو چارواکو واک او ځواک ورسره ختمېږي. ښایي تر شا یې کوم بل لامل وي، خو لامل یې که هرڅه وي، دا کار وحشت دی، جنایت دی او د افغانستان له ولس سره ظلم او جفا ده. هېڅ حق نه لري چې د خپلو سیاسي موخو لپاره ښځې، ماشومان او نور بې ګناه وګړي ووژني. دا یوه پېښه نه ده چې تېروتنه او یا ناسم پوهاوی وګڼل شي. پرله پسې ملکي وګړي په نښه کېږي او تر ډېره د پېښو بڼه داسې ده، چې قصدي او عمدي چاره ورته ویلی شو. د اندړو وروستۍ پېښه یې ښه مثال دی چې د ملکیانو موټر په نښه کېږي او پرته له دې چې طالب او یا جګړه وي، ټول ملکیان پکې وژل کېږي.

دا ډول وحشتونه او جنایتونه حکومت د خلکو له سترګو غورځوي. په دې سره به دا حکومت لا زیات له خلکو لرې شي، کمزوری به شي او خلک به د خپل قاتل او دښمن په سترګه ورته ګوري. له همدې امله دې دا ډول پېښو تکرار د حکومت په ګټه هم نه دی. پکار ده چې د دغو وحشتونو مخه ونیول شي او نور تکرار نه شي. له دې پرته به نه یوازې خلک له حکومت سره واټن پیداکړي، بلکې غبرګون به وښيي او دا غبرګون به د حکومت لپاره هم بدې پایلې ولري.

# نوی کابل بانک

## د نویو غلو په ولکه کې؟!

لیکنه: اجمل روهي

په افغانستان کې چې بانکونو ته ځې، له ځینو اندېښنو سره به ځې. بانک کې به بیر و بار ځومره وي، پیسې به زړې راکوي که نوې، برق به وي که نه او که نه وي، نو کار به بیا بلې ورځې ته پاتې کېږي او له بانک نه چې را ووځم ځوک مې تعقیب نه کړي، پیسې را څخه وا نه خلي، پیسې خیر چې ځوک مې ونه وژني او داسې نورې اندېښنې به درسره وي.

خو له دغو اندېښنو ور ها خوا، یوه بله لویه اندېښنه شته چې د نړۍ بل هېواد کې به یې ځوک تصور هم ونه شي کړای، خو افغانستان کې په نورمال ډول سره دغه معامله روانه ده. په نوره نړۍ کې پر جنایي پېښه باندې ښایي دومره تمرکز ونه شي، لکه پر داسې موضوعاتو چې د هېواد اقتصاد ویجاړوي.

راځم د سترګو لیدلي حال ته؛ د نوي کابل بانک مرکزي برانچ (ځانګې) ته چې د کابل په شهرنو سیمه کې ده، ولاړم. غوښتل مې تقریباً څه باندې درې لکه افغانۍ را وباسم، چې د یو چا پور ادا کړم. صراف ته مې وویل، خو هغه د دې پر ځای چې ما ته لومړی د نورې پروسې د سرته رسولو لپاره پارچې او کاغذونه راکړي، لومړی ووتلو او پیسې یې راوړې. د پیسو تقریباً اووه بنډله پنځه سویز لوټونه یې راوړل او له ماشین نه یې تېرول، چې یو بنډل یې لږ پرسېدلی او نامنظم شانته ښکارېده او له ماشینه سم نه تېرېده. بیا یې له دې سره لږه تندی تروش کړ او په غوسه یې له ځانه سره وویل: «ای چه رقم پیسه ست» او پیسې یې په لاس وشمېرلې. د پیسو د شمېرلو پر مهال یې نور پېرودونکي ښۍ او کیڼې غرفې ته لېږل، چې د صراف چلند لږ شکمن کړم.

د پارچې تر راکړې وروسته زه هم ولاړم او د لاسلیک شویو کاغذونو ترڅنګ مې د لاسلیک د پخلي چارې او د تذکرې فوټوکاپي اخیستل او نورې چارې ترسره کړې او بېرته هماغه کړکۍ ته ورغلم، چې تر شا یې د څارنې کامرې هم لګېدلې وې.

بې له دې چې پیسې بیا د شمېرلو له ماشین څخه تېرې کړي، بنډلونه یې راته کېښودل. له ما سره شک و، چې د چارو د خلاصولو پر مهال ښایي صراف له بنډلونو څېنې پیسې بېرته اخیستې وي یا یې بنډلونه بدل کړي وي، نو ځکه مې هر یو بنډل له سره وشمېرلو، د شکاستیب شویو لوټونو شمېرې مې هم وکتلې چې نمبربدله نه وي، خو لوټونه ظاهراً سم او بنډلونه پوره وو.

د بانک د ودانۍ له وتلو څخه وروسته مې زړه و چې ځان ته شخصي ټکسي موټر ونیسم، خو سرک کې د موټرو او خلکو ګڼه ګوڼه دومره زیاته وه، چې غوره مې وبلله پلی ځان د شهزاده تر سرای پورې ورسوم. په تلو تلو کې به مې کله نا کله شا ته هم مخ اړولو، چې ځوک خو به مې تعقیبوي نه؟!

شهزاده سرای ته ورسېدم، غوښتل مې ډالر را ونیسم، ځکه پور مې په ډالرو کړی و. د خپل سیمه وال امین جان خوستي صرافۍ ته ورغلم، کله یې چې پیسې له ماشین نه تېرولې، نو یو پنځه سویز لوټ ماشین تېر نه کړ. ما ته یې وویل، چې دا یو لوټ خو جعلي دی، ما ورته وویل چې همدا اوس مې له کابل بانک نه پیسې راوړې! دوی را ته وویل، چې دا څه نوې خبره نه ده، خو لوټ پخپله په لاس کې وګوره لږ سپک دی. د هغه لوټ پر ځای مې بل له خپلې بټوې څخه ورکړ، کور ته چې راغلم لوټ مې ښه وکتلو، ډېر په مهارت جوړ شوی و، بازار کې ما چلولی شوی، خو له ځانه سره مې وویل چې نه! زه به دا کار نه کوم، باید د دغه لوی خیانت اصلي سرچینه پیدا شي، یقیناً زه یوازینی کس به نه یم او دا لړۍ که قطع نه شي، ملي اقتصاد ته لوی ګوزار دی.

په همدې سوچونو کې وم، چې څه وکړم او له کومه ځایه یې پیل کړم؟ د نوي کابل بانک منجرانو ته ورشم؟ ایا دوی به له ما سره همکاري وکړي، که دوی خپله هم په کې ښکېل وي، نو ما ته به نورې ستونزې جوړې کړي؟! دوه-درې ورځې مې په همدې هکله سوچ کولو، ځینو ملګرو ته به مې دا کیسه وکړه، دوی به را ته ویل څه مه پسې ګرځه دا افغانستان دی، خو زما زړه نه تسکین کېده.

څو ورځې وروسته مې وپتېله، چې د افغانستان بانک ته ورشم، ځکه مرکزي بانک دی او د ټولو بانکونو د کنټرول او نظارت چارې په دوی پورې اړوندې دي.

را یاد شوه، چې هلته مې یو دوست شته، هغه مې راپیدا کړ، جعلي لوټ مې هم ورښکاره کړ او غوښتنه مې ترې وکړه، چې د بانک له رییس سره راته د لیدنې زمینه برابره کړي، خو رییس او لومړی مرستیال په دفترونو کې نه وو، ویل یې په سفر تللي، بالاخره دویم مرستیال ته ورغلو، چې ښه روغبړ او ښه وضعیت یې را سره وکړ. ما هم ټوله کیسه ورته تېره کړه او دا مې هم ورته وویل، چې زما د معلوماتو له مخې ستاسو د کمرو لخوا اخیستل شوې ویډیو تر شپږو میاشتو پورې ساتل کېږي او تر هغې وروسته بیا آرشیف کېږي، چې دوی یې هم پخلی وکړ. بیا مې وړاندیز ورته وکړ، چې له بانک نه په اخیستل شوي رسید کې دقیقاً ساعت او دقیقې لیکل شوې او د غرفې شمېره مې هم ورته وښودله او پر دې مې ټینګار وکړ، چې صراف د طرز العمل خلاف چاره تر سره کړې، ځکه پیرودونکو ته چې کله پیسې ورکول کېږي، باید د دوی د سترګو په وړاندې پیسې له ماشینه تېرې کړي. زما وړاندیز دا و، چې که په ناڅاپي توګه د همدې مرکزي برانچ ټوله ودانۍ وپلټل شي، چې څومره نورې جعلي پیسې هلته موجودې دي؟!

مرستیال له ما نه ډېره مننه وکړه او له بانکي رسید او جعلي پیسو نه یې عکس واخیست او زیاته یې کړه، چې د نوي کابل بانک له رییس سره زه په وایبر باندې دغه عکسونه شریکوم او د موضوع پلټنه کوم او په یوه اونۍ کې به تاسو ته هم مالومات درکړم! زه هم ډېر خوشاله شوم، د دوی کارت مې ترې واخیست او ترې رخصت شوم. زه په دې هم ډېر خوشاله وم، چې خپل مسوولیت مې ادا کړی و.

زه د یو ښه خبر او اجرااتو په تمه وم، خو یوه اونۍ، دوې اونۍ او بله اونۍ یوه په بله پسې تېرېدلې، خو هېچا هم زنګ را ته ونه کړ. فکر مې وکړ چې کېدای شي کار به شوی وي، خو زما ټلیفون به مصروف یا سایلنټ و او دوی به زنګ کړی وي. بیا مې په خپله دویم مرستیال ته زنګ وکړ او هغه خبره مې وریاده کړه. د ده ځواب دا و: «مه برایشان گفتم ولی آنها قبول نکردن!». د دغه ځواب په اورېدو سره هک حیران شوم، نو ما ورته وویل چې دا خو طبیعي ده، چې غل خو خپله غلا نه مني، خو تاسو باید پلټنې کړې وای. خو د ده ځواب بیا هم منفي و! بالاخره مې ورته وویل که تاسو اقدامات ونه کړئ، نو زه به خبره تر رسنیو ورسوم. بیا هم ډېره غیر منطقي ځواب: «هر چه میکنی دلت!». اوس خو تر هغه جعلي پنځه سویز، د دغه بې مسوولیته مسوول کس ځواب ډېر خوابدی کړی وم. دلته نو دوه خبرې وې، یا دغه شخص دومره بې کفایته دی، چې حتی د موضوع پر اهمیت نه پوهېږي او یا هم د همدې کړۍ شریک دی.

څو ورځې متواتر، هر ځای کې به چې له نږدې ملګرو سره مخ کېدم، دا کیسه به مې ورته کوله، چې دوی محتاط اوسي. خو یوه ورځ په پغمان کې یوه ملګري کره مېلمه وم، چې هلته مې هم دا کیسه وکړه، د ملګري مېرمنې مې چې د یوه ښوونځي مدیره ده راته وویل، چې د دوی په ښوونځي کې یې یوې ښوونکي ته د معاش په پیسو کې درې نیم زره افغانۍ جعلي ورکړې وې، چې بیا هغه بانک ته ورغله چې زما نیمایي معاش چې تاسې جعلي راکړئ، نو زه څه وخورم؟ بیا هلته د بانک مدیر ورته ویلي وو، «خیر است برایت تبدیل میکنیم» او پیسې یې ورته بدلې کړې، چې دا خپله یو ښه ثبوت دی، چې ولې یې جعلي پیسې ورته بدلولې؟!

یوه موده وروسته مې له خپلوانو سره یوې میلې ته تللی وم، چې هر رقم خلک راسره وو، ما د پیسو دا جریان بیا تېر کړ. زموږ یو خپل چې سوداګر دی ویل یې، هره پنجشنبه چې له دوکاندارانو د اوګرایي پیسې راټولې کړم، خامخا دوه- درې جعلي لوټونه په بنډلونو کې را ووځي، ځرنګه چې د ټولولو پر مهال له ما سره د پیسو چک کولو ماشین نه وي، نو ما ته معلومات نه وي، چې له چا نه مې اخیستې او زه یې هم بیا نورو ته ورکوم، نو دا جعلي پیسې په دوران کې دي.

یو بل صراف ما ته دا متل تېر کړ: چې په یوه ګل نه پسرلی کېږي!

ما ورته په ځواب کې دا وجیزه وویله: «ځوک چې مبارزه کوي، کېدای شي وېې ګټي، کېدای شي وېې بایلي، خو ځوک یې چې نه کوي؛ له اوله یې بایللې!»

نور نو قضاوت ګرانو لوستونکو ته پرېږدم؛ کابل بانک د میلیاردونو پیسو یو بانک و، چې یو ځل خو یوې بلې کړۍ بې اعتباره او په ګونډو کړی و، چې په سختۍ یې بېرته پر پښو ودرولو. ولسمشر ته دې خدای اوږد عمر ورکړي، خو که په رښتیا هم زر کلن شي او هر څومره ښې برنامې هم ولري، خو چې د دغې مافیا مخه ونه نیول شي، هره څه به عبث وي؛ لکه په ګدام کې چې موږک وي، له یوې خوا به غله راځي او له بلې خوا به یوازې موږک ډېرېږي او چاغېږي! که هر څومره هم مرکزي بانک بازار ته د افغانیو د ارزښت ساتلو په موخه ډالر لیلام ته وړاندې کړي، بیا به هم افغانۍ ثبات ونه مومي، څو چې زموږ د اقتصاد له ستې څخه دا چنجي ونه ایستل شي!!!

## عبدالله: اوسنیو شرایطو ته په کتو اړتیا ده چې بهرني ځواکونه په افغانستان کې پاتې شي



اجرایه رییس عبدالله عبدالله ویلي، اوسنیو شرایطو ته په کتو، اړتیا ده چې نړیوال ځواکونه په افغانستان کې پاتې شي.

نوموړي ویلي، له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو وتل یوازې د طالبانو غوښتنه نه، بلکې د دغه هېواد د خلکو غوښتنه هم ده، خو اړتیا ده چې د سولې تر ټینګېدو پورې په افغانستان کې پاتې شي.

نوموړي زیاته کړې: «طالبان غواړي چې بهرني قوتونه په افغانستان کې ونه اوسي، دا د دوی غوښتنه ده او دا د افغانستان د خلکو غوښتنه هم ده، خو زموږ یا د افغانستان د خلکو په نظر د دغو قواوو حضور ته تر هغو چې په دې هېواد کې سوله راځي او جګړه روانه وي اړتیا شته، خو جګړه په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو له حضور مخکې هم د طالبانو او د افغانستان د نورو خلکو ترمنځ پیل شوې وه.»

دا په داسې حال کې ده، چې اوسمهال په افغانستان کې کابو ۱٦ زره نړیوال ځواکونه د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت په چوکاټ کې دنده ترسره کوي، چې له دې ډلې ۱۴ زره یې امریکایي سرتېري دي.

امریکایي رسنیو څو میاشتې مخکې راپور ورکړی و، چې د ولسمشر ټرمپ اداره نیت لري، څو خپل نیمایي یعنې اووه زره امریکایي سرتېري له افغانستانه وباسي.

ټرمپ ویلي چې متحده ایالتونه په کال کې ۵۰ میلیارده ډالره په افغانستان کې مصرفوي.

له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په اړه د راپورونو تر خپرېدو وروسته، داسې راپورونه هم خپاره شول چې افغان ولسمشر اشرف غني د روان زېږدیز کال په جنوري کې ولسمشر ټرمپ ته په یوه استولي لیک کې وړاندیز کړی، چې په دغه هېواد کې د امریکایي سرتېرو د ساتلو لپاره دې د هغوی لګښتونه کم کړي.

عبدالله د ازادي راډیو د دې پوښتنې په ځواب کې، چې ایا ټرمپ ته په استولي لیک کې له تاسو سره هم مشوره شوې وه، ویلي: «په دې کې مشوره نه وه شوې، خو زه وایم چې په ټولو مسایلو کې به معنی د مشورې دا نه وي، چې کارونه له خنډ یا ځنډ سره مخامخ کېږي، بلکې مشورې ته اړتیا شته».

عبدالله په افغانستان کې د سولې تر ټینګېدو د نړیوالو ځواکونو پر پاتې کېدو په داسې حال کې ټینګار کوي، چې طالبانو له امریکایي پلاوي سره په خبرو کې له دغه هېواده د ټولو نړیوالو ځواکونو پر وتلو ټینګار کړی دی.

## د ملکي مرګ ژوبلې اوج؛
# په غزني کې هوايي برید ۱۳ ملکي وګړي وژلي دي



په دې وروستیو کې په هوايي بریدونو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله اوج ته رسېدلې ده. تر ننګرهار، میدان وردګو، پکتیا او لغمان وروسته، په تازه پېښه کې په غزني کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د راپورونو له مخې، هوايي ځواکونو د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ په لېوانو کلي کې پر یوه مسافر وړونکي موټر هوايي برید کړی دی. عیني شاهدان او د سیمې اوسېدونکي وايي چې په برید کې ۱۳ ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د سولې له خبرو سره هممهاله په هېواد کې چاپېز عملیات او هوايي بریدونه اوج ته رسېدلي دي. تر ډېره ویل کېږي چې دغه هوايي بریدونه او چاپېز عملیات د بهرنیو ځواکونو له لوري ترسره کېږي، خو په ډېری مواردو کې افغان ځانګړي ځواکونه هم په شپنیو عملیاتو کې برخه اخلي او پلټنې کوي. د همدغو عملیاتو په لړ کې په ننګرهار، میدان وردګو، غزني، لغمان او پکتیا ولایتونو کې ملکیان ته مرګ ژوبله اوښتې ده، خو حکومت تر دې دمه د دغو پېښو په مقابل کې کوم غبرګون نه دی ښودلی.

په میدان وردګو کې په تېرو دوو اونیو کې په دوو ولسوالیو کې په هوايي بریدونو کې ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. لومړی ځل د وردګو په جلګه او دویم ځل د سیداباد په تنګي کې هوايي بریدونه وشول. په دواړو بریدونو کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واوښته، خو حکومت ادعا کوي چې په بریدونو کې وسله وال طالبان په نښه شوي دي. د میدان وردګو والي هغه مهال له مسیر ورځپاڼې سره په خبرو کې ویلي وو، چې دوی د پېښې د پلټنې لپاره یو پلاوی ګومارلی دی، خو تر دې دمه د دغه پلاوي د څېړنو او پلټنو پایله له رسنیو سره نه ده شریکه شوې.

په همدې لړ کې، په میدان وردګو او غزني کې د هوايي بریدونو پر ضد لاریونونه هم وشول. حکومت تر دې دمه د لاریون کوونکو پوښتنو ته ځوابونه نه دي ویلي، خو لاریون کوونکي وايي چې د حکومت دا بې پروایي به دوی د تونډ غبرګون ښودلو ته اړ کړي.

په هوايي بریدونو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله داسې مهال اوج ته رسېدلې، چې څو ورځې وړاندې د ولسمشریزو ټاکنو نوماند حنیف اتمر د ملکي وګړو له بوړنوونکو شمېرو پرده پورته کړه. هغه وویل، چې په تېرو پنځو کلونو کې ۵۱ زره ملکیان وژل شوي او تر ۹۸ زره پورې نور ټپیان شوي دي. د ده په خبره، د حکومت بې پروایي او د ملکي وګړو د ژوند خوندیتابه ته د ژمنو نه عملي کول، د دغه مرګ ژوبلې د لوړېدو ستر لامل دی.

د دې ترڅنګ پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د ملکي وګړو پر دغه مرګ ژوبله اندېښنه ښودلې وه. کرزي ویلي وو، چې له یوې خوا د سولې خبرې رواني دي، خو له بلې خوا په هوايي بریدونو کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړول سولې ته زیان رسولی شي. هغه پر حکومت هم غږ کړی چې نور دې په هوايي بریدونو کې د ملکي وګړو د تلفاتو مخه ونیسي، ځکه دا به فاصلې ډېرې کړي او له دغو فاصلو به دښمن د خپل ځان په ګټه کار واخلي.

## محب: طالبان د سولې له فرصتونو په ګټې اخیستنې کې پاتې راغلي دي



د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب ویلي، چې د افغانستان خلکو او حکومت د سولې لپاره خپله ژمنتیا ښکاره کړه، خو طالبان د سولې له فرصتونو په ګټې اخیستنې کې پاتې راغلي دي.

نوموړي ورمه ورځ په نیویارک کې د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د خبرو پر مهال په افغانستان کې له ډیموکراټیک بهیره د قوي ملاتړ لپاره مننه کړې او ویلي یې دي، چې افغان حکومت په راتلونکو ټاکنو کې د دغه سازمان پر دوامداره تخنیکي ملاتړ حساب کوي.

د ملګرو ملتونو امنیت شورا دغه ناسته د افغانستان په اړه جوړه شوې وه، چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سرمنشي هم پکې د افغانستان په اړه خپل راپور وړاندې کړی دی.

که څه هم د افغانستان د ملي امنیت سلاکار ویلي، چې افغانستان له تروریزم سره د مبارزې په لومړۍ کرښه کې قرار لري او په خبره یې، د تروریستي ډلو په مقابل کې جګړه یوازې د افغانستان مسوولیت نه دی.

هغه له نړیوالو غوښتي چې له تروریزم سره د مبارزې په برخه کې له افغانستان سره مرسته وکړي.

نوموړي دغه راز ویلي چې سولې ته بېړنۍ اړتیا شته، خو نه په هره بیه.

محب زیاته کړې: «سوله باید د ځانګړو کسانو ترمنځ معامله نه، بلکې ټولشموله او د یوه نوي افغانستان استازې وي. که سوله په افغانانو پورې اړه لري او د افغانانو په واسطه تامینېږي، نو د دې سولې په اړه باید خپله افغانان معامله وکړي.»

نوموړي دې ته په اشارې چې افغان حکومت او خلکو د سولې لپاره خپله ژمنتیا ښودلې، زیاته کړې چې اوس د دې وخت را رسېدلی، څو طالبان خپله ژمنه ثابته کړي، خو دوی د سولې له فرصتونو په استفاده کې پاتې راغلي دي.

نوموړي له طالبانو غوښتي چې بین الافغاني خبرې پیل کړي او په هېواد کې جګړه او تاوتریخوالی پای ته ورسوي.

محب ویلي: «سره له دې هم موږ له طالبانو سره مستقیمو خبرو ته تیار یو، که دوی په رښتیا هم سوله غواړي، باید په عمل کې ثابته کړي، نه دا چې زموږ د امنیتي سرتېرو او بېګناه خلکو پر وړاندې خپلو حملو ته دوام ورکړي».

## قریشي: د امریکایي او طالب استازو ترمنځ په خبرو کې پرمختګونه شوي دي



د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي ویلي، چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او امریکا د استازو ترمنځ په خبرو کې پرمختګونه شوي، خو نوموړي د دغو پرمختګونو په اړه جزیات نه دي ورکړي.

نوموړي دغه څرګندونې داسې مهال کړې، چې د افغان سولې لپاره د امریکا د متحده ایالتونو ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد له نږدې دوو اونیو راهیسې، له طالب استازو سره په دوحه کې پر خبرو بوخت و، چې یادې خبرې پرون پای ته رسېدلې دي.

که څه هم د دې غونډې په هکله چې له تمې زیات دوام یې وکړ، لږ جزیات بهر ته راوتلي دي، خو د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر په دې غونډه کې د «پرمختګونو» د رامنځته کېدو خبره کړې ده .

قریشي تېره ورځ په اسلام آباد کې د جرمني د بهرنیو چارو له وزیر هایکوماس سره په یو ګډ خبري کنفرانس کې ویلي: «پاکستان په افغانستان کې ټولې ډلې هڅولې چې سره کېني او بامفهومه بین الافغاني خبرې وکړي».


دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه پر بین الافغاني خبرو ټینګار کوي، خو طالبان بیا له افغان حکومت سره له مستقیمو خبرو ډډه کوي.

بلخوا د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب هم د دوشنبې په ورځ د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ناستې ته په خبرو کې ویلي، چې له افغان حکومت سره د طالبانو مستقیمې خبرې یوه بېړنۍ اړتیا ده، خو په خبره یې، طالبان د سولې له فرصتونو په ګټنه کې پاتې راغلي دي.

محب زیاته کړې: «موږ له طالبانو سره د سولې مخامخ خبرو ته چمتووالی لرو. که طالبان په رښتیا هم سوله غواړي، هغوی یې باید عمل کې ثابته کړي. نه دا چې د بې ګناه خلکو او د امنیتي ځواکونو پر ضد خپلو بریدونو ته دوام ورکړي.»

د اسوشیټېډ پرېس اژانس د راپور له مخې، امریکا له پاکستانه غوښتي، چې له طالبانو سره په خبرو کې مرسته وکړي، څو د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږده جګړه یې پای ته ورسېږي.

## متحده ایالتونو له وینزویلا د خپلو ټولو ډیپلوماتانو د وتلو امر کړی دی



د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو، له وینزویلا د ټولو امریکایي ډیپلوماتانو او د هغوی د کورنیو د ایستلو امر کړی دی.

د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې د پامپیو له خولې ویل شوي، چې دا پرېکړه لکه د تېرې جنوري میاشتې د ۲۴مې د پرېکړې په څېر د وینزویلا د وضعیت د خرابېدو څرګندونه کوي او هم په دغه هېواد کې د امریکا سفارت د کارکوونکو په اړه د امریکا د پالیسۍ نتیجه په ډاګه کوي، چې دوی تر فشار لاندې دي.

په خبرپاڼه کې دا نه دي ویل شوي، چې څومره امریکایي ډیپلوماتان تر اوسه په وینزویلا کې پاتې دي او په څومره وخت کې باید له دغه هېواده ووځي.

دا په داسې حال کې ده چې له وینزویلا د ټولو امریکایي ډیپلوماتانو د ایستلو د پرېکړې تر اعلان څو ساعته مخکې، د امریکا متحده ایالتونو د روسیې پر هغه بانک بندیزونه ولګول، چې د وینزویلا د تېلو له دولتي شرکت سره معاملې کوي.

د امریکا د خزانې وزارت د بهرنیو شتمنیو د کنټرول ادارې د یکشنبې په ورځ په یوه بیان کې ویلي، چې د روسیې د «Mosnarbank Evrofinance» بانک چې امریکا پرې بندیزونه لګولي، شتمني یې په تېر ۲۰۱۸ ز کال کې په سلو کې ۵۰ سلنه زیاته شوې ده.

دغه بانک چې په ۲۰۱۱ ز کال کې جوړ شوی او مرکزي دفتر یې په مسکو کې دی، د روسیې د بانکونو یوه ډله او د وینزویلا ملي پراختیایي صندوق یې ګډ مالکان دي.

د امریکا د خزانې وزیر سټیون منوچېن ویلي چې دغه اقدام د دې ښکارندویي کوي، چې متحده ایالتونه به د هغو بهرنیو مالي موسسو پر وړاندې چې د مادورو د غیر قانوني رژیم له دوام، د دغه هېواد د اقتصاد له خرابېدو او بشري بحران سره چې د وینزویلا خلک یې اغېزمن کړي، مرسته کوي؛ اقدامات وکړي.

منوچېن دغه راز خبرداری ورکړی چې د نېکولاس مادورو د نامشروع رژیم پر وړاندې به نورو بندیزونو لګولو ته هم دوام ورکړي.

بلخوا د امریکا د ملي امنیت سلاکار جان بولټن نړیوالو بانکونو او مالي موسسو ته جلا خبرداری ورکړی دی.


نوموړي په یوه ټوېټ کې بانکونو ته په اشارې ویلي، چې له مادورو او د هغه له همکارانو سره چې د وینزویلا د خلکو شتمني غلا کوي، مرسته مه کوئ.

دا په داسې حال کې ده چې متحده ایالتونه او له ۵۰ زیات نور هېوادونه د وینزویلا د اپوزیسیون مشر خوان ګوایدو، چې ځان یې په خپله ولسمشر اعلان کړی، د موقت ولسمشر په توګه په رسمیت پېژني.

دوی ویلي چې مادورو تېر کال بیا له غیر قانوني لارې ځکه ټاکل شوی، چې مخالفو کاندیدانو ته اجازه نه وه ورکړل شوې، چې په ټاکنو کې ګډون وکړي.

# ډیورنډ توره کرښه

اکسوس کتابپلورنځی



د (ډیورنډ توره کرښه) کتاب تازه پښتو ته ژباړل شوی دی. د کتاب لیکوال راجیف ډوګرا دی، پښتو ژباړه یې بابرزي هېواد دوست کړې ده، چې همدا پښتو بڼه یې ټول ټال ۳٦۱ مخونه لري.

د افغانستان د اوسنۍ سیاسي جغرافیې په اړه موجود ډېر کړکېچونه د ډیورنډ او ورته نورو مسئلو په حقوقي شالید کې نغښتي دي. موږ کلونه کلونه د دغه داعیې په پالنه او ګټنه کې د سر او مال قرباني ورکړې ده او لا هم دغه لړۍ روانه ده.

زموږ ځوان نسل اوس هم د ډیورنډ په اړه پر ډېرو خبرو نه پوهېږي او د ډیورنډ په نامه د دغه ژور ټپ په مرهم پسې لاس تپ وهي. موږ په دغه خاورینه کره کې پراته لار ورکي ولسونه، د خپل راتلونکي په ورکه پسې هاخوا دېخوا ګرځو، خو پوه نه یو چې زموږ د موجود ناورین ستره برخه همدا د ډیورنډ په نامه موجوده منحوسه او نامنلې کرښه ده، چې هېڅکله افغان ولس نه ده منلې او نه به یې ومني.

د افغانستان ټولنیز او سیاسي تاریخ که وکتل شي، نو اصلي چورلیز یې وسله واله مبارزه او جنګ جګړې دي، چې اصلي محور یې همدا کرغېړنه کرښه ده. د دغه تاریخ هېڅ پاڼه د یوه علمي بدلون او خوځښت خبرې نه کوي او نه چا دې قربانۍ ته زړه ښه کړی دی. لاملونه یې ښایي ډېر وي، خو ستر لامل یې دلته ناوړه حاکم دود دی، چې یوازې د ټوپک پر اتلولۍ پکې ناز کېږي.

د ډیورنډ فرضي کرښې له تړون څه کم یوه نیمه پېړۍ تېرېږي، خو لا یې هم اور نه دی مړ او هره ورځ پر افغان ولس سوزېږي. که ووایو چې د ډیورنډ کرښې په اړه په مستقیم او غیر مستقیم ډول لسګونه کتابونه لیکل شوي، مبالغه به مو نه وي کړې.

د ډیورنډ مسئله په دې مهمه ده چې د زرګونو انسانانو ژوند ور پورې تړلی دی او تر ټولو مهمه دا، چې له کلونو کلونو یې پر افغان ولس اغېز کړی، ځورولی یې دی او لا یې هم دغه تنده نه ده ماته شوې.

دغه کتاب د دغه فرضي کرښې په اړه ستاسې ډېرو هغو پوښتنو ته معقول او جامع ځواب وايي، کومې چې له ډېر وخت راپدېخوا بې ځوابه پاتې شوې دي. لکه، د دغه کرښې له رامنځته کولو د انګرېزانو هدف څه و؟ څه شی د دې لامل شول چې امیر عبدالرحمن خان یو داسې سند لاسلیک کړي؟ ایا دغه هوکړه تل پاتې وه؟ د دې او ورته لسګونو پوښتنو ځواب په دغه کتاب کې پیدا کولی شی.

د کتاب تر ټولو ښه ځانګړنه دا ده چې بهرني لیکوال راجیف ډوګرا لیکلی دی. له دې مخکې د ډیورنډ په اړه ډېرو افغانانو کتابونه لیکلي وو، چې ځینې یې د معلوماتو په تله پوره نه وو او په ځینو کې له احساساتو هم کار اخیستل شوی و، خو دغه کتاب بیا بهرني او په اصطلاح منځګړي لیکوال لیکلی دی.

په ټوله کې مو دغه کتاب د ډیورنډ کرښې په اړه له هغو رازونو خبروي، چې تر اوسه پټ ساتل شوي وو.

مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Cambridge English IELts 1 with Answers | Cambridge university press | ۱۳۰؋ |
| ۲ | Cambridge English IELts 2 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۳ | Cambridge English IELts 3 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ٤ | Cambridge English IELts 4 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ٥ | Cambridge English IELts 5 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ٦ | Cambridge English IELts 6 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۷ | Cambridge English IELts 7 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۸ | Cambridge English IELts 8 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۹ | Cambridge English IELts 9 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۱۰ | with Answers ۱۰ Cambridge English IELts | | ۱۳۰؋ |
| ۱۱ | Cambridge English IELts 11 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۱۲ | Cambridge English IELts 12 ACADEMIC with Answers | | ۱۲۰؋ |
| ۱۳ | Cambridge English IELts 13 ACADEMIC with Answers | | ۱۲۰؋ |
| ۱٤ | جمهوریت | افلاطون | ٤٥۰؋ |
| ۱٥ | د نړیوالو اړیکو اصول | فرهاد قاسمی | ٤۲۰؋ |
| ۱٦ | اقتصاد پېژنده | محمد داود نیازی | ۳٥۰؋ |
| ۱۷ | کاروبار | | ۲۲۰؋ |
| ۱۸ | د افغانستان اوبه د خپلو اوبو په ګرداب کې | | ۱٦۰؋ |
| ۱۹ | د افغانستان مالي سیستم | | ۲٥۰؋ |
| ۲۰ | د خبریالۍ اصول | دانیل سینګ | ۲۲۰؋ |
| ۲۱ | د بهرنۍ سیاست پالیسي او ماهیت | جېمز باربراو مایکل سمیت | ۳۷۰؋ |
| ۲۲ | د ښوونې او روزنې اقتصاد | محمد رضا آهنچینان | ۳۰۰؋ |
| ۲۳ | ویښ ملت | عبدالکلام د هندوستان پخوانی ولسمشر | ۱٤۰؋ |
| ۲٤ | مدیریت منابع بشری | شفیق الله مصلح | ۲۲۰؋ |
| ۲٥ | ستراتیژیک مدیریت | فریډ آر. ډیویډ | ۲۷۰؋ |
| ۲٦ | روش تحقیق با رویکرد spps | میرمحمد ظاهر حیدری | ۳۰۰؋ |
| ۲۷ | د زیتونو روزنه | سید اکبر ساداتی | ۱٦۰؋ |
| ۲۸ | په منځني ختیځ کې سیاست او حکومت | حبیب الله ابوالحسن شیرازی | ۳۰۰؋ |
| ۲۹ | ملی امنیت او نړیوال نظام | ډاکټر جلیل روشندل | ۲۷۰؋ |
| ۳۰ | ډیورنډ توره کرښه | راجیف ډوګرا | ۳۲۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**


پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
- ژباړن: میـراحمد یـاد

### شپږم څپرکی
### ځان چې څه ګڼې، هماغه یې



ټامه ته پر خوښی، پرمختګ او بري باور لرې.

نو: د خوښۍ خبرې کوه

د پرمختګ خبرې کوه

او د بري خبرې کوه

ته ډېرې انګېزې لرې ټامه، سختې ډېرې انګېزې لرې.

نو انګېزې وکاروه، هېڅ شی دې مخه نه شي نیولای ټامه، هېڅ شی.

ټامه ته خوشبینه یې، نو خپله خوشبیني وښیه.

ټامه ته ښکلی ښکارې او ټامه ته ښکلی فکر کوې، نو همداسې اوسه.

ټام سټالي ته پرون هم غوره وې او نن به هم تر پرون غوره یې، نو ورځه ټامه، پر مخ لاړ شه.)

د ټام د سوداګریزې خبرتیا ښېګڼه دا ده چې په فعالیت او بریالیتوب کې ورسره مرسته کوي. ټام وايي: (له خپلو ارزښتونو پېژندلو مخکې مې ځان د ټولو خلکو مخکې کوچنی باله، خو نن مې داسې څه ترلاسه کړي چې ماته ارزښت او باور راکوي، د بري احساس کوم او تلپاتې برې غواړم.)

خپله شخصي سوداګریزه خبرتیا به څنګه جوړوو؟

لومړی خپلې شتمنۍ او خپل امتیازات وشمېرئ. ځان وپوښتئ چې: (زما ښېګڼې څه دي؟) د دې په تشریح کولو کې مه شرمېږئ.

بیا دا ټکي په یوه پاڼه ولیکئ او د خپل ځان د ستاینې یوه سوداګریزه خبرتیا ترې جوړه کړئ. د ټام سټالي خبرتیا بیا ولولئ، وګورئ چې له ځان سره څنګه غږېدلای دی، هماغسې له ځان سره وغږېږئ، بېخي روانې او ارامې خبرې وکړئ. دا خبرتیا مو چې لوستله، نو له ځان پرته د بل هېچا په اړه فکر مه کوئ.

درېیم، دا خبرتیا په یوازې ځای کې لږه تر لږه د ورځې یو ځل په لوړ غږ ولولئ. که هندارې ته ودرېږئ او ویې لولئ، لا به ښه شي. ځان‌ژبه (باډي لینګویج) ورسره وکاروئ. خبرتیا په جدیت او قاطعیت تکرار کړئ، وینه په رګونو کې وخوټوئ، د خپل بدن تودوخه احساس کړئ.

څلورم: خپله خبرتیا د ورځې څو ځله غلې غلې لولئ. په هر کار کې چې زړورتیا ته اړتیا وه، دا ترې یو ځل مخکې لولئ. د نهیلۍ پر وخت یې ولولئ. ذهن کې یې درسره کېنوئ او د اړتیا پر وخت یې تکراروئ.

بله دا چې ښایي په دې کار زیاتره یا ټول خلک در پورې وخاندي. ځکه هغوی به دا نه مني چې برې، هدایت شوې فکري لاس ته رواړنه ده. خو خیر دی د خلکو په خبرو پسې مه ګرځه، ته عادي انسان نه یې، که د خپلو ارزښتونو په پېژندلو او منلو کې ستونزه لرې، له بریالیو خلکو یې پوښتنه وکړه. له هغوی پوښتنه وکړئ او وروسته بیا د خپلو ارزښتونو منل پیل کړئ.

فکر تازه کړئ او د مهمو خلکو په څېر فکر وکړئ

فکر تازه کول مو کارونه تازه کوي او دا د بري تضمین دی. دلته درته یوه اسانه لاره ښودل کېږي، په دې طریقه د مهمو خلکو په څېر فکر کولای او خپلو وړتیاوو ته رسېدلای شئ.

لاندې پوښتنلیک د یوه لارښود په توګه وکاروئ:

| | |
|---|---|
| اندېښنه | نا مهم کس داسې پېښې ته اندېښنه کوي؟ |
| | بریالی کس دې حالت ته زړه نه خوري؟ |
| مفکوره | مهم کس چې مفکوره ولري، څه کوي؟ |
| ظاهر | زه پر ځان باوري انسان ښکارم؟ |
| خبرې | د بریالیو خلکو خبرې کوم؟ |
| مطالعه | مهم خلک دا شیان لولي؟ |
| بحث | مهم خلک پر دې بحث کوي؟ |
| غوسه | مهم کس زما په څېر، دې مسایلو ته غوسه کېږي؟ |
| ټوکې | مهم کس داسې ټوکې کوي؟ |
| کار | مهم کس د خپل کار په اړه نورو سره څنګه غږېږي؟ |

دوام لري...

همیانی

# د نړۍ ځینو مشهورو پوهانو د پیسو په اړه څه انګېرنې درلودې؟

ژباړه: عطا محمد میاخېل

- پیسې مه ډېرې ښې ګڼئ او مه بې ارزښته، ښه خدمت کوونکې دي، خو بد رييس هم دي. (الکساندر دوماس فیلس )
- ماته مه وایه چې د ژوند لومړیتوبونه دې چېرې دي، یوازې ووایه، چې پیسې دې څنګه مصرفوې، هغه وخت به زه تاته ووایم چې ستا د ژوند لومړیتوبونه څه دي. (جمرډبليوفريک)
- تش جېب انسان شاته پاتې نه ساتي، بلکې تش زړه او مغز د شاته پاتې کېدو سبب ګرځي. ( نورمن وينسټ پيل)
- زه مینه ناک کس پر شتمن کس باندې غوره ګڼم او زه یو بې پیسو نارینه ته پر شتمن نارینه باندې ترجبح ورکوم. (ثميسټکلس )
- زما پیسې ډېرې نه خوښېږي، خو کافي اندازه یې د هوساینې او ارامتیا سبب ګرځي.(؟)
- ما ښوونځی پای ته نه دی رسولی، خو ډېر شتمن او بریالی یم. ( ټري کول)
- که چېرې خپل کار په سمه توګه ترسره کړئ، نو هغه وخت به پیسې ستاسو پر لور راشي، ځکه هغه کسان چې تاسو ته اړتیا لري، ستاسو پر لور به را جذب شي، له تاسو څخه غوښتنه کوي، له تاسو څخه هیله کوي او په ډېرې خوښۍ او رضایت سره تاسو ته پیسې درکوي. (جز سيلوا)
- که چېرې یوازې د پیسو لپاره کار وکړئ، نو هېڅکله به یې ترلاسه نه کړئ، خو که چېرې له هغه کار سره چې کوی یې، مینه وکړئ او پېرېدونکی لومړنی ځیز وي چې ارزښت ورکوئ، نو هغه مهال به بریا ترلاسه کړئ. (ري کراک)
- کله چې شتمن شوې، څومره چې د لګښت په اړه فکر کوې، د پس انداز په اړه هم فکر وکړه. (بنجامېن فرانکلین)
- د کاروبار په لومړیو کلونو کې مې په کافي اندازه پیسې نه لرلې، څو ښه او وړ کسان استخدام کړم. ما مینه ناک کسان لرل، خو ښه کارمندان مې نه لرل. (لوئيزهي)
- د پیسو کمښت د بریا مخه نه نیسي، خو د یوې ښې نظریې نه شتون د بریا په لاره کې ستر خنډ بلل کېږي. (کن ها کوټا)
- مفلسي د ټولو شیطانانو د حضور ريښه ده. (جورج برنارد شاو)
- ځینې کسان له پیسو سره داسې چلند کوي، ترڅو یې چې پای ته نه وي رسولې، وزګار نه کېني او ځینې نور د پیسو د ترلاسه کولو لپاره، خپل ټول ارزښتمن عمر پای ته رسوي. (جوهان ولفګنګ)
- پیسې نه شي کولای چې تاسو خوشاله کړي. زه اوس ۵۰ میلیونه ډالر لرم، خو په هماغه اندازه خوشاله یم، چې ۴۸ میلیونه ډالر مې لرل. (آرنولډ شواټزنګر )



- کله چې ځوان وم، فکر مې کاوه چې په ژوند کې پیسې تر ټولو مهم ځیز دی. اوس چې زوړ شوی یم، ډاډه یم چې همداسې ده. (سکار وایلډ)
- څوک چې باور لري، پیسې به هر کار ترسره کړي، نو په ډېر احتمال سره به هر کار د پیسو لپاره ترسره کړي. (بنجامېن فرانکلن)
- څوک چې خبرتیاوې (تبلیغات) دروي، ترڅو پیسې پس انداز کړي، هغه چاته پاتې کېږي، چې ساعت خرابوي، ترڅو وخت پس انداز کړي. (هنري فورډ)
- یو نارینه باید پیسې په خپل سر کې ولري، نه په خپل زړه کې. (جانتن سو يفټ )
- پیسې پر هغه ژبه خبرې کوي، چې ټوله نړۍ پرې پوهېږي. (افرابهن)
- تاسو باید د خپلو پیسو کنټرول په خپل لاس کې واخلئ، کنه نو د پیسو کمښت به مو د تل لپاره کنټرول کړي. (ډېو رمزي)
- شتمن کسان، کوچني ټلوېزيونونه او ستر کتابتونونه لري، خو بېوزله کسان کوچني کتابتونونه او غټ ټلوېزيونونه لري. (زيګ زيګلار)
- مخکې تردې چې خبرې وکړئ، غوږ ونيسئ. مخکې تر دې، چې وليکئ، فکر وکړئ. مخکې تر دې چې لګښت وکړئ، نو پیسې تر لاسه کړئ. مخکې تر دې چې پانګونه وکړئ، څېړنه وکړئ. مخکې تر دې چې نيوکه وکړئ، صبر او زغم ولرئ. مخکې تر دې چې دعا وکړی، بښنه وکړئ. مخکې تر دې چې تسلیم شی، یو ځل بیا هڅه وکړئ. مخکې تر دې چې له دندې ګوښه شی، پس انداز وکړئ. مخکې تر دې چې ومری، نو ببښنه وکړئ. (ويليام وارډ)
- د شتمن کېدو لپاره باید هغه مهال چې ویده یاست، هم پیسې لاسته راوړئ. (ډېوېډ بيلي)
- که وکولای شی، چې خپلې پیسې وشمېرئ، نو شتمن نه یاست. (جي پاول ګټي)
- یو لیکوال باید پیسې لاسته راوړي، څو وکولای شي ژوند او لیکل وکړي، خو په هېڅ وجه د پیسو د ترلاسه کولو لپاره باید ژوند او لیکل ونه کړي. (کارل مارکس)
- که پوهه نه وي، نو پیسې او شتمني په ډېرې چټکۍ سره له لاسه ځي.(جورج کلاوسون)
- هېڅکله د پیسو لپاره واده مه کوئ، د پیسو د ترلاسه کولو لپاره نورې اسانه لارې هم شته. (جورج برنارد شاو)
- تقوا او پیسې د تلې دوې پلې دي؛ که یوه پورته لاړه شي، نو بله یې هرومرو را ټیټېږي. (افلاطون)
- خلک په درې ډوله دي: د پیسو نوکران، د پیسو ملګري او د پیسو خانان. (ډېل کارنګي)

## باري سلام: په پوهنې وزارت کې لاهم زیاتې ستونزې شته چې پوهنیز نظام یې له ګواښ سره مخ کړی دی

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمېټې ویلي، چې لا هم په پوهنې وزارت کې ستونزې شته، چې د هېواد د پوهنې پر نظام ناوړه اغېز کړی دی.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې د نوي تعلیمي کال پیلېدو ته نږدې دوې اونۍ پاتې دي، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه کمېټه وايي، په پوهنې وزارت کې اوس هم داسې نیمګړتیاوې شته چې که د اصلاح لپاره یې اقدامات ونه شي، په هېواد کې به د پوهنې پر نظام ناوړه اغېز وکړي.

د دې کمېټې مسوولینو تېره ورځ په کابل کې یوې خبرې ناستې ته ویلي، چې د روان لمریز کال د عقرب په څلورمه یې د پوهنې په نظام کې ۱۱۳ نیمګړتیاوې په ګوته او د اصلاحاتو لپاره یې یاد وزارت ته سپارلې، خو په خواشینۍ سره چې د ډېری دغو نیمګړتیاوو د لرې کولو لپاره لازم اقدامات نه دي شوي.



د دې کمېټې مشر باري سلام ویلي: «موږ د بلخ، جوزجان او سمنګان ولایتونه وکتل، په دغو ولایتونو کې د درسي کتابونو، ښوونځیو، مسلکي ښوونکو او د بودجې او امکاناتو کموالی او همدارنګه د پوهنې په چارو کې د زورواکو او د پارلمان د غړو مداخلې هغه جدي ستونزې وې، چې موږ ورسره مخامخ شو».

د یادې کمېټې مسوولینو دا هم ویلي چې د پوهنې وزارت د ۱۱۳ سپارښتنو له ډلې یې کابو ۵۰ مواردو ته رسیده ګي کړې، خو هیله ده چې یاد وزارت د پوهنې په نظام کې د ټولو ځانګړو شویو ستونزو هوارولو لپاره جدي اقدامات وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان اکثره خلک او په تېره ښوونکي او زده کوونکي شکایت کوي، چې د پوهنې نظام د حکومت له هڅو سره سره اوس له ډېرو نیمګړتیاوو او ستونزو سره مخ دی او دغه وضعیت پر زده کړو منفي اغېز کړی دی.

## یاماموتو: طالبان دې ژر تر ژره له افغان حکومت سره خبرو ته کېني

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو استازي او د یوناما مشر تاداميچي یاماموتو د افغان حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ پر مخامخ خبرو ټینګار کړی دی.

نوموړي دغه څرګندونې په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په هغې ځانګړې غونډه کې کړې، چې د افغانستان په اړه جوړه شوې وه.

نوموړي چې یادې غونډې ته یې د افغانستان د وضعیت په اړه معلومات ورکول، د سولې د روانو هڅو، راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو، بشري حقونو، د ښځو د پیاوړتیا او د بشري وضعیت په اړه د مهمو پرمختیاوو په هکله خبرې کړې دي.



نوموړي د افغانانو له کړاوه ډک ژوند او د جګړې له امله د تلفاتو په هکله چې پر ملکیانو یې بدې اغېزې لا هم دوام لري، د امنیت شورا غونډې ته معلومات ورکړي دي.

د یوناما مشر یو ځل بیا د سولې په هر پړاو کې د بین الافغاني خبرو اترو پر ارزښت ټینګار کړی او غوښتنه یې کړې چې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې نبغ په نبغه خبرې باید ژر تر ژره پیل شي.

نوموړي سوله د افغانستان د خلکو د راتلونکي لپاره مهمه بللې او په خبره یې چې د افغان ښځو په ګډون باید دا پروسه د افغانانو په مالکیت ترسره شي.

یاماموتو زیاته کړې چې د افغان سولې پروسې د بریا لپاره د نړیوالې ټولنې او د سیمې د هېوادونو مرسته او همکاري اړینه ده.

هغه د افغان حکومت ستاینه هم کړې چې د سولې په پروسه کې یې ښځو ته ونډه ورکړې او ویلي یې دي، چې د ښځو ونډه باید په هره پروسه کې په پام کې ونیول شي.

د یوناما مشر د ولسمشریزو ټاکنو په اړه ویلي، چې په قانون کې یې تعدیل راوستل شوی، د ټاکنیزو کمېسیونونو مشران او کمېشنران د ټولو سیاسي ګوندونو، کاندیدانو، مدني ټولنو او نورو له خوا ټاکل شوي دي.

نوموړي له ټاکنیزو کمېسیونونو غوښتي چې د خلکو باور ترلاسه کولو لپاره باید جدي اقدامات وکړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,٤۰ |
| € | ۸۵ |
| Rp. | ٥٤۱ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۹۸,٥۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily

New Vision, New Journey






المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

المبارک

توریستي شرکت

flydubai

TURKISH AIRLINES

Emirates

ARIANA

0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55

کابل د میوند جادې ورو‌ستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



چهارشنبه د ۱۳۹۷ د کب ۲۲مه | د ۲۰۱۹ د مارچ ۱۳مه | دویم کال | ۳۵۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۸ | ۱۸ | ۲۱ | ۲۳ | ۱۹ |
| ‎-۱ | ۵ | ۵ | ۸ | ۱۰ | ٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤٥ | لمر ختل ۰٦:۰۹ | ماسپښین ۱۲:۰٤ | مازیګر ۰۳:۲٦ | ماښام ۰٥:٥۹ | ماخوستن ۰۷:۲۳

## نړۍ



# متحده ایالتونو له وینزویلا د خپلو ټولو ډیپلوماتانو د وتلو امر کړی دی

۳

## ملګري ملتونه: د ایتوپیا په لوېدلي الوتکه کې زموږ ۲۱ کارکوونکي وژل شوي دي



ملګرو ملتونو ویلي چې په ایتوپیا کې د وروستۍ نسکورې شوې الوتکې په پېښه کې، د دغه سازمان ۲۱ کارکوونکي هم مړه شوي دي.


د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوترش د ښځو د وضعیت د کمېسیون د کلنۍ غونډې د پرانیستو پر مهال، په خپله وینا کې دا پېښه په تېره د ملګرو ملتونو لپاره لویه غمیزه بللې ده.

نوموړي دغه راز ویلي: «په ایتوپیا کې دې ناوړه پېښې د وروستیو معلوماتو له مخې، د ملګرو ملتونو د ۲۱ کارکوونکو په ګډون، د ټولو سپرلیو او پر دې سربېره، په نامعلوم شمېر د هغو کسانو ژوند واخیست چې له ملګرو ملتونو سره یې له نږدې کار کاوه».

دا په داسې حال کې ده چې د ایتوپیا د هوايي شرکت بوینګ ۷۳۷ ماکس ډوله الوتکه، د تېرې یکشنبې په ورځ د دغه هېواد د پلازمېنې اودیسه بابا له هوايي ډګره له پورته کېدو لږ څنډ وروسته را وغورځېده او ټول سپاره ۱۵۷ کسان پکې مړه شول.

د دغه هېواد د چارواکو په خبره، په الوتکه کې ټول سپاره ۱۴۹ مسافر او اته تنه نور د الوتکې خدماتي ټیم ځای پر ځای وژل شوي دي.

## پوتین: د روسیې کیمیاوي او بیولوژیکي امنیت خوندي کول مو له مهمو پالیسیو څخه دي



د راپورونو له مخې، د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین فرمان صادر کړی، چې له مخې به یې تر ۲۰۲۵ ز کال مخکې او وروسته د روسیې بیولوژیکي او کیمیاوي امنیت ته د دغه هېواد په حکومتي پالیسیو کې ځای ورکړل شي. د نوموړي دغه فرمان د روسیې هغه انټرنټي سایټ خپور کړی، چې ډېرې وخت پکې رسمي فرمانونه او قانوني اطلاعات خپرېږي.

په دغه فرمان کې وړاندې راغلي، چې د دولت سیاست د بیولوژیکي او کیمیایي امنیت په برخو کې، چې د دغه هېواد د ملي امنیت او د دولتي سیسټم د مدیریت له مهمو برخو څخه دي، باید روښانه شي. د نوموړي د فرمان له مخې، په دغو اقداماتو کې حقوقي، بیولوژیکي، صحي، اداري، مالي او اطلاعاتي برخې شاملې دي، چې موخه یې د خطرناکو کیمیاوي او بیولوژیکي موادو له منفي اغېزې څخه د دغه هېواد د خلکو او چاپېریال ساتل، په خطرناکو بیولوژیکي او کیمیاوي موادو د څارنې د سیسټمونو رامنځته کول، پراختیا او دغه راز د بیولوژیکي او کیمیاوي امنیت په برخه کې د دوو اړخیزو نړیوالو همکاریو زیاتوالی بنودل شوی دی.

## لویه څارنوالی پنج کارمند پیشین و برحال کمیسیون انتخابات، ممنوع الخروج اعلام کرده اند



لویه څارنوالی افغانستان پنج تن از کارمندان پیشین وبرحال کمیسیون مستقل انتخابات به شمول رئیس سابق دارالانشای این کمیسیون را ممنوع الخروج اعلام کرده است.

در کاپی نامه شماره ۷۴۱۵ ریاست تحقیق جرایم لویه څارنوالی، که به تاریخ ۱۳ حوت به قوماندانی پولیس سرحدی ارسال شده، آمده است که احمدشاه زمانزی رئیس سابق دارالانشای کمیسیون انتخابات، اول الرحمان رودوال رئیس سابق امور عملیاتی، عبدالعزیز صمیم معاون برحال امور عملیاتی، سید ابراهیم سادات رئیس برحال تکنالوژی معلوماتی و زمری قلمیار رئیس کنونی عملیاتی ساحوی کمیسیون یادشده، شامل این پنج تن می باشند.

در نامه آمده است که این پنج تن، در ارتباط به قضایای انتخاباتی که تحت تحقیق این اداره قرار دارد، جهت اتخاذ تدابیر احتیاطی و به اساس پیشنهاد هیئت مؤظف و منظوری مقام عالی لوی څارنوالی، به گونۀ موقت ممنوع الخروج شده اند.

این درحالی است که به دنبال تعدیل قانون انتخابات، اعضای قبلی کمیسیون مستقل انتخابات و کمیسیون شکایات انتخاباتی برکنار و سپس ممنوع الخروج شده اند.

در عین حال لویه څارنوالی، از بررسی ۱۸۷ قضیه انتخاباتی با مظنونیت ۳۸٦ تن در ۲۲ ولایت خبر داده می گوید که تحقیقات در مورد قضایای کمیشنران کمیسیون های انتخاباتی، به شکل جدی جریان دارد.

جمشید رسولی سخنگوی این اداره، دیروز به آژانس خبری پژواک گفته است که این قضایا در ولایت‌های کندز، بغلان، سمنگان، بلخ، جوزجان، سرپل، فاریاب، کاپیسا، پروان، لوگر، پکتیا، پکتیکا، کندهار، بدخشان، پنجشیر، هرات، خوست، نیمروز، زابل، بامیان، ننگرهار، فراه و کابل رخ داده است.

منبع با ذکر اینکه تحقیقات اکثر این قضایا تکمیل و فیصله‌های محاکم را نیز در برگرفته است، افزود که از مجموع این قضایا، ۵۲ مورد آن تحت کار این اداره قرار دارد و ۱۹ قضیه که مشمول ۳۸ تن می‌شود، تحت جلب می‌باشد، ۳ مورد آن حفظ شده و پنج قضیۀ دیگر به خاطر رفع خلا و نواقص دوسیه‌ها، به مراجع مربوط فرستاده شده است.


## ژوند

## ریحان او درملیزې ګټې یې!



ریحان؛ معطره سبزي ده چې د نعنا له کورنۍ څخه شمېرل کېږي. له دې سبزۍ څخه تر ډېره د خوړو د معطر کېدو لپاره ګټه اخیستل کېږي. خو له دې پرته دغه سبزي ډېرې نورې ګټې هم لري. د ناروغیو پر وړاندې د بدن مقاومت لوړوي، په زیاته کچه د انټي اکسیدان درلودلو له کبله د پوستکي، ځیګر او سږو له سرطان څخه مخنیوی هم کوي. د ډېرو ویټامینونو او په پاڼو کې یې د ډېرو درملیزو ځانګړنو او غوړو شتون، اوس دغه سبزي پر ګټور درمل بدله کړې ده. روغتیا پالان وایي چې لږ تر لږه د ریحانو ۳۵ ډولونه تر اوسه پورې پېژندل شوي دي، چې بېلابېلې بڼې لري. د ناروغۍ ضد د پراخې پیمانې انټي اکسیدانو درلودونکې ده. سټریا له منځه وړي، له سرطان سره مبارزه کوي، مکروب ضد ځانګړنه لري، د زړور خپګان مخه نیسي، زړه روغ ساتي، ځیګر تقویه کوي او بدن له مسموم کېدو ژغوري او ترخنګ یې د هاضمې سیسټم پیاوړی کوي. دغه سبزي ډېرې نورې ګټې هم لري، چې یوازې په یوه کوچنۍ لیکنه کې یې بیانول ستونزمن کار دی. په ټوله کې هغه سبزي یا سابه چې نن سبا یې خوړل زموږ په ټولنه کې دود دي، په یو ډول نه یو ډول د بدن لپاره ګټه رسوي.

## موټورولا نوي موبایلونه بازار ته وړاندې کوي




د موبایل تولیدوونکې موټورولا شرکت هم لاس تر زنې نه دی ناست، بلکې هڅه کوي پر نوې ټکنالوژۍ سمبال او له پخواني Razr موبایل څخه په الهام اخیستو، نوي قاتکېدونکي موبایلونه بازار ته وړاندې کړي. دغه شرکت وایي، غواړي خپلو پېرودونکو ته بازار ته په نوې بڼه د دغو موبایلونو په راتلو سره پخواني یادونه ور یاد کړي. ویل کېږي چې په دغو موبایلونو کې به پر ټچ سکرین سربېره، ټوله هغه نوې ټکنالوژي کارول شوې وي، چې اوسمهال په ځینو نورو ډېرو کارېدونکو موبایلونو کې کارول شوې ده. د XDA-Developers په یوه راپور کې د دغه نوي موبایل د جوړښت په اړه ځینې معلومات افشا کړي دي. په دغه راپور کې راغلي چې پر مخپانه به یې لږ تر لږه شپږ د تنظیماتو عنوانونه ښکاري او ترخنګ به یې کله چې اصلي صفحه خلاصه وي، د نمایش بېرونۍ صفحه به یې چې Closed Display هم ورته وایي، تور رنګ خپلوي. په دې اړه هم معلومات نشته چې دغه شرکت به پر اصلي مخپاڼه د تنظیموونکو عنوانونو شمېر ور زیات کړي، که نه. ډېرې شرکتونه اوس په دې هڅه کې دي، چې بېرته په یو ډول پخواني او لومړي ځل جوړېدونکي تولیدات بازار ته په داسې بڼه وړاندې کړي، چې نوې ټکنالوژي پکې کارول شوې وي.